# شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

پنجشنبه | د جمادي الأول ۱۷-۱٤٤٥ / د ليندۍ ۹-۱٤۰۲ /د نومبر ۳۰-۲۰۲۳ /دوهم کال / ۷٦ گڼه/ ٤ مخيز


د مصافحې اجر، ثواب او برکتونه:

د حديث شريف ژباړه: کله چې دوه مسلمانان سره مخامخ سي، مصافحه (روغبړ) وکړي او د الله تعالى حمد ووايي او د ځانونو لپاره مغفرت وغواړي؛ نو دواړو ته مغفرت کېږي. : [رواه ابوداؤد باب في المصافحة (ص: ۳۵۲ ج:۲)]

اجر، ثواب و برکات مصافحه:

ترجمه حديث شريف: هنگاميکه دو مسلمان رو برو شود، مصافحه (احوال پرسی) کنند و حمد خداوند متعال بگويند و برای خود مغفرت خواهی کنند، هر دو بخشيده می شوند. : [رواه ابوداؤد باب في المصافحة (ص: ۳۵۲ ج:۲)]

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سرمقاله


### نگاه اجمالی بر احيای مجدد شرکت انکشاف صنايع دستی

شرکت دولتی انکشاف صنايع دستی افغانستان درسال (۱۳٤۵) درچوکات وزارت معادن ايجاد شد که بعداً نظر به لزوم ديد مقامات وقت به وزارت محترم تجارت ملحق گرديده و بعد از سپری شدن يک مدت در سال مذکور به اساس تصميم حکومت وقت منحيث يک شرکت سهامی صد فيصد دولتی غرض توسعه صادرات، تزئيد حجم توليدات و بهبود کيفيت آن و کمک به مولدين اين صنعت با سرمايه ابتدايی دو ميليون افغانی تاسيس و شروع به فعاليت نمود. که با وصف مشکلات، شرکت متذکره فعاليت نورمال داشته و سرمايه ابتدائی آن در ظرف پنجسال به بيست ميليون افغانی ارتقا نموده است. در سال (۱۳٦٤) نهاد متذکره به اساس تجويز مقامات ذيصلاح وقت به تصدی دولتی تغيير شخصيت حقوقی نمود. متعاقباً به اساس فيصله حکومت وقت در ربع آخير سال (۱۳۷۰) تصدی مذکور به شرکت سهامی مختلط با سهامت (٦۰٪) جانب سکتور خصوصی و (٤۰٪) جانب دولت با سهم ابتدائی (۵۰۰) ميليون افغانی پول مروجه وقت، تغيير شخصيت حقوقی نموده رسماً به فعاليت آغاز نمود. شرکت دولتی انکشاف صنايع دستی در سال (۱۳۷۰) هجری خورشيدی به فعاليت آغاز کرد و در سال ۱۳۹۹ از مرکز سهامی به شرکت دولتی انکشاف صنايع دستی تغيير حقوقی کرده است. شرکت دولتی انکشاف صنايع دستی نخستين بار از آغاز سال (۱٤۰۱) فعاليت هايش را در بخش صنايع دستی آغاز نموده و برای بيش از يک هزار تن به گونۀ مستقيم و غير مستقيم زمينه کار را فراهم کرده است. مسوولان اين شرکت می گويند که در هژده سکتور از جمله ساخت لباس‌های افغانی، وسايل تزئينی و گونه‌های دستکول وطنی از چرم فعاليت دارند. ايشان می افزايند که برای گسترش هرچه بيشتر فعاليت های تجارتی اين شرکت بايد مقامات ذيصلاح توجه نمايند زيرا اين نهاد در کنار مزيت های اقتصادی ممثل فرهنگ اصيل و باستانی کشور نيز می باشد. بناً از لحاظ فرهنگی و هنری ايجاب می کند تا اين فرهنگ ديرينه و باستانی کشور کماکان زنده بماند و در نمايشگاه های بين المللی بتواند با ساير کشورها رقابت نمايد. احمد فردين ضيايی، رئيس شرکت انکشاف صنايع دستی می گويد که خانم‌های که در صنعت صنايع دستی مصروف کار و فعاليت استند، اين‌ها اکثراً در خانه‌های‌شان کارگاه دارند، توليدات دارند و از خانه‌های‌شان با ما همکاری دارد. وی علاوه می کند که از ابتدای فعاليت شرکت بعد از تحولات اخير شرکت توانسته است که بخش های شرکت های اساسی و غير اساسی رشد (٦۵٪) درصدی داشته است. گفتنی است که شرکت انکشاف صنايع دستی در راستای رشد نرخ توليدات، انکشاف صادرات و توسعه صنايع دستی به هدف اشتغال زايی، ارتقای مستمر و پايدار اقتصادی ملی، استفاده بهينه از منابع توليد داخلی و پاسداری از دارايی های شرکت و تامين سود پايدار و روبه رشدن با استفاده از ظرفيت های سرمايه گذاری در بخش های مختلف شرکت کار و فعاليت می نمايد. راهکار رياست عمومی شرکت های دولتی وزارت ماليه اينست که از طريق احيای مجدد شرکت صنايع دستی که معرف و پاسدار فرهنگ اصيل و باستانی کشور است، بتواند توليدات و صنايع دستی کشور را به جهان معرفی نمايد و از طريق آن گوشه ی از فرهنگ ملی ما به جهان شناسانده شود و از سوی ديگر بخش از درامدهای حاصله از توليدات آن شرکت را به خزانه ملی کشور واريز نمايد. در کل هدف استراتيژيک رياست عمومی شرکت های دولتی وزارت ماليه اينست تا به کمک و همکاری رهبری وزارت ماليه تمام شرکت های دولتی را به صورت تدريجی به پا ايستاده نمايد تا ضمن کاريابی برای شهروندان کشور، گام های اساسی را برای افزايش عوايد ملی و رشد اقتصادی کشور برداشته شود. دور نخواهد بود تا افغانستان بتواند دوباره به ثبات اقتصادی و رشد پايدار مالی برسد.

با احترام

اداره

## د کندهار ښار د لويي ويالې د اوبو رسولو پروژې چاري پيل سوې





د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخند او د ماليې وزارت اړوند د ښاري اوبو رسولو دولتي شرکت د لوی رئيس انجنير نعمت الله احمدي له لوري د کندهار ښار د لويي ويالې د اوبو رسولو پروژې د چارو پرانيستنه وسوه. پر دغه پروژه (٤۰۵) ميليونه افغانی لگښت راځي او اوږدوالی ئې (۱۱۱) کيلو مترو ته رسېږي، چې (۷۰۰۰) کورنيو ته د څښاك پاکي اوبه برابروي. په دغه پروژه کې (۲۵۰) او (۳۲۰۰) متر مکعبه د اوبو زېرمې د (٦) حلقو ځاگانو کيندنه، يو پمپ سټېشن او د پروژې اړوند ساختماني چاري شاملي دي.

## د خوست او ابو نصر فراهي په گمرکونو کي د (۲٦.۵) ميليونه افغانيو په ارزښت رغنيزي پروژې پيل سوې




د گمرکونو لوی رياست د خوست او ابو نصر فراهي گمرکونو کي د (۲٦.۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د ليليې د نويو ودانيو جوړولو پروژې پيل کړې، چې په جوړېدو سره به ئې د يادو گمرکونو د کارکوونکو او د سوداگريزو محمولو د موټر چلوونکو شته ستونزي حل سي. د دغو پروژو په پرانيست غونډه کي له پلازمېني کابل څخه تللي پلاوي، د يادو گمرکونو مسؤلينو او د سيمه ييزو ادارو يو شمېر مسؤلينو گډون کړی وو. د يادوني وړ ده، چې د يادو پروژو بوديجه د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کيږي، چې چاري به ئې تر راتلونکو (۱٤) مياشتو پوري بشپړي سي.

## د غير انتفاعي مؤسسو د مالياتي معافيت پروسه په انلاين بڼه سوه

د عوايدو لوی رياست د يوه بې ساري اقدام په ترڅ کي، د غير انتفاعي مؤسسو د مالياتي معافيت بهير انلاين بڼي ته واړاوه. په دغه غونډه کي، چې په همدې موخه د گمرکونو او عوايدو په ملي اکاډمۍ کي جوړه سوې وه، د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال حافظ خليل احمد ابولاحسان، د عوايدو لوی رياست تخنيکي مرستيال عبدالولي نوري، د حقوقي خدمتونو او پاليسۍ رئيس مولوي ندا محمد صديقي، د عوايدو د سيستم رئيس محمد جلال احمدزي او د کورنيو او بهرنيو غير انتفاعي مؤسسو يو شمېر استازو گډون کړی وو. په لومړيو کي د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال حافظ خليل احمد ابولاحسان په خپله پرانيستې وينا کي وويل: «له فتحي وروسته د ماليې وزارت ټولي څانگي فعاله سوي دي او د عوايدو د راټولولو او ماليه ورکوونکو ستونزو ته د رسيدو په برخه کي اسانتيا او سرعت رامنځ ته سوی دئ. د مؤسسو د مالياتي معافيت تصديق پاڼه ترلاسه کول، چي پخوا يوه ستونزه وه، په بشپړه توگه حل او د غير انتفاعي مؤسسو د مالياتو معافيت ټوله پروسه انلاين بڼي ته اوښتې، چي په دې کار سره هم چټکتيا او هم روڼتيا رامنځته سوې ده.



پاته برخه په ٤ مخ کي...

د ماليې وزارت مسؤلينو د يوناما له استازو سره وکتل

م ۲




د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست رهبرۍ د ټولو دولتي شرکتونو له رئيسانو سره ناسته وکړه

م ۲



د شمال ختيځ زون د مستوفيتونو مالي برخي کارکوونکو ته انلاين روزنيز پروگرام جوړ سو

م ۲



د عوايدو لوی رياست رهبرۍ د دولتي ادارو له يو شمېر مسئولينو سره د غيرمالياتي عوايدو په تړاو ناسته وکړه

م ۲



د بهرنۍ پانگوني راجلبول او گټې

م ۳



TaxExemption Process of Non-profit Organizations Converted to Online Format

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه



# د ماليې وزارت مسؤلينو د يوناما له استازو سره وکتل

د ماليې وزارت د پالیسۍ معینیت د همغږۍ، څارني او راپور ورکولو لوی ریاست سرپرست ښاغلي مطیع الله "مجددي"، په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د معاونیت پلاوي (یوناما) د قانون د حاکمیت برخي له رئیس محترم ساموېل «اپوکو اگیکوا» (Samuel Opoku-Agyakwa) سره د ماليې وزارت د پالیسۍ معینیت د څارني، ارزوني او راپور ورکولو رئیس محترم محمد موسی "کاموي" او د دغه معینیت د یو شمېر آمرینو په حضور کې وکتل.

په دې کتنه کې گډونوالو له اداري فساد سره د مبارزې د ملي ستراتيژۍ د طرحې او په ځانگړي ډول د ماليې وزارت د بنچمارکونو په اړه بحث او د نظرونو تبادله وکړه.

محترم «ساموېل» د اداري فساد سره د مبارزې او د عوایدو د زیاتوالي په برخه کې د افغانستان د اسلامي امارت لاسته راوړني وستایلې او د فساد سره د مبارزې د ستراتيژۍ د طرحې په برخه کې د نړیوالو معیارونو په ځانگړي توگه د ملگرو ملتونو د کنوانسیون سره سم، د ماليې وزارت وستایه.

همدارنگه محترم "مجددي" د اداري فساد د مخنیوي، معیاري کولو، خصوصي سکټور د خدمتونو وړاندي کولو، د مالیاتي او گمرکي عوایدو راټولولو او زیاتولو، د اسلامي امارت له پالیسۍ سره سم د قوانینو د تعدیل او د مراجعینو ستونزو ته د رسېدو په موخه د شکایتونو اورېدو د یوه ځانگړي دفتر پرانیستلو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندي کړل.

په پای کې د ماليې وزارت او د یوناما د دفتر ترمنځ د اداري فساد پر وړاندي د مبارزې په برخه کې د معلوماتو او لاسته راوړنو د شریکولو په موخه د اړیکو پر دوام هوکړه وسوه.

## د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست رهبرۍ د ټولو دولتي شرکتونو له رئيسانو سره ناسته وکړه




د عوایدو لوی رئیس ښاغلي الحاج شیر محمد مشفق په مشرۍ او د دغه ریاست د مالیه ورکوونکو خدمتونو ریاست رئیس ښاغلي عبدالقیوم نصیر او د غیر مالیاتي عوایدو رئیس ښاغلي امان الله امین په حضور کې د ټولو دولتي شرکتونو له رئیسانو سره پر غیر مالیاتي عوایدو، د ټولو دولتي شرکتونو لیست، چې د دولتي شرکتونو ریاست سره ثبت او راجستر دئ، پر وخت د اظهار لیکونو ډکولو او له قانون سره سم د موضوعي او انتفاعي مالیاتو پر ورکړي بحث وسو.

د عوایدو لوی رئیس ښاغلي الحاج شیر محمد مشفق په خپلو خبرو کې د ټولو دولتي شرکتونو څخه د قدردانۍ ترڅنگ وویل؛ چې د عوایدو په شفاف ډول راټولولو او لوړولو کې باید په پوره اخلاص او ایمانداري کار وکړو او په دغه برخه کې باید عملي گامونه پورته سي.

## د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست رهبرۍ د سوداګرۍ خوني له استازو سره ناسته وکړه



د ماليې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج شیر محمد مشفق، د گمرکونو لوی رئیس او د گمرکونو او عوایدو معینیت کفیل مفتي عبدالمتین سعید او د عوایدو لوی ریاست د بررسۍ رئیس خان محمد ذاکر د سوداگرۍ خوني له استازو سره د گمرکونو او عوایدو په برخه کې د دوی پر ستونزو (انتفاعي مالیاتو، گمرکي تعرفو او په اظهارلیکونو کې د اصلي قیمت وړاندي کولو باندي بحث وکړ.

د یادوني وړ ده، چې د ناستي په ورستیو کې پر دې پرېکړه وسوه، چې د سوداگرۍ خوني مسؤلین دې خپل وړاندیزونه ترتیب او د عوایدو او گمرکونو معینیت ته وسپاري؛ تر څو په اړه ئې تصمیم ونیول سي.

## د شمال ختيځ زون د مستوفيتونو مالي برخي کارکوونکو ته انلاين روزنيز پروګرام جوړ سو



د ماليې وزارت د بشري سرچینو ریاست د شمال ختیځ زون (کندز، تخار او بغلان) مستوفیتونو د مالي څانگو کارکوونکو لپاره د مالي مدیریت او د جنسي او نغدي تعلیماتنامې په تړاو روزنیز پروگرام جوړ کړ.

په دغه پرانیستغونډه کې، چې په همدې موخه د ماليې وزارت اداري معینیت د غونډو په تالار کې جوړه سوې وه، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر په خپلو خبرو کې وویل: موږ تل هڅه کړې، چې د ماليې وزارت د اړوندو څانگو د کارکوونکو ظرفیت او مسلکي وړتیا لوړه کړو. دغه روزنیز پروگرام هم ستاسي (مالي کارمندانو) لپاره جوړ سوی، چې تاسي باید د خپلي مسلکي پوهي د لوړولو لپاره مثبته گټه ورڅخه پورته کړئ؛ ترڅو خپل اړوند کارونه په سمه او اصولي بڼه ترسره کړئ.

د یادوني وړ ده، چې دغه روزنیز پروگرام به (٦) ورځي دوام وکړي، چې گډونوالو ته به پکښې د ماليې وزارت اهداف او ستراتیژیک پلانونه، د مالي او حسابي ریاست چاري، د بودیجې جوړښت، د جنسي محاسبې طرزالعمل او فورمې او نور اړین موضوعات تشریح سي.

... د غير انتفاعي مؤسسو د مالياتي معافيت د خبر دوام

وروسته بیا د عوایدو لوی ریاست تخنیکي مرستیال عبدالولي نوري په خپلو خبرو کې وویل: «د غیر انتفاعي مؤسسو د مالیاتي معافیت پروسې انلاین بڼې ته اړول د اسانتیاوو د رامنځته کولو او د اصلاحاتو راوستلو په برخه کې یو بل مثبت گام دئ؛ څو په ځینو مواردو کې قانون استثناوي وړاندي کوي، هغه اشخاص، چې غیر انتفاعي فعالیتونه لري او دولتونه او نړیوالي مؤسسې د یوه دوه اړخیز یا څو اړخیز تړون په ترڅ کې هوکړه کوي، چې د دوی فعالیتونه د تړون له مخي له مالیاتو څخه معاف دي.»

ښاغلي نوري زیاته کړه، مهمه موضوع دا ده، چې معافیتونه په یوه معتبر قانوني سند کې ذکر سوي وي او هغه څوک، چې د مالیاتي معافیت ادعا لري باید ټول هغه شرایط، چې په قوانینو کې ذکر سوي وي، ولري.


ورپسې د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس مولوي ندا محمد صدیقي په خپلو خبرو کې وویل: «هره ورځ د مالیاتي چارو په برخه کې اسانتیاوي رامنځته کېږي او مالیاتي نظام ورو-ورو د الکترونیکي حکومتولۍ په لور روانېږي. سیستم جوړونه او برېښنایي کول نه یوازې د مالیاتي اداري لپاره؛ بلکې د مالیه ورکوونکو لپاره هم غوره گام دئ، ځکه چې د وخت له ضایع کېدو څخه مخنیوی کوي، په کارونو کې سرعت، روښتیا او ډاډ رامنځته کوي.»

وروسته د اکبر مؤسسې مشر (ریچارډ هوفمن) د سیستم د پراختیا او انلاین کېدو د مبارکۍ ترڅنگ وویل: «د انلاین سیستم پر پراختیا پانگونه اړینه ده، چې دا نه یوازې پروسې فعاله ساتي؛ بلکې د فساد په له منځه وړلو کې هم مرسته کوي. نوموړي د پوهني او نورو امکاناتو په برخه کې د افغانستان له زیانمنو خلکو سره د هر اړخیزې همکارۍ په موخه ډاډ ورکړ.»

په پای کې د تشبث تعلیمي او تربیتي مؤسسې رئیس فضل ربي حقبین وویل: «د مالیاتي معافیت د انلاین کولو پروسه یو نوښت او د ستاینې وړ ده. هغه وړاندیز وکړ، چې د مالیاتي معافیت سند باندي، چې پخوا درې کلن وو او اوس یو کلن دئ، ډېر غور وسي.

د یادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت مالیه ورکوونکو ته د لا زیاتو اسانتیاوو برابرولو ته ژمن دئ او هڅه کوي، چې په خپلو اړوندو ادارو کې برېښنایي حکومتولي بنسټیزه کړي.

## د عوايدو لوی رياست رهبرۍ د دولتي ادارو له یو شمېر مسؤلينو سره د غيرمالياتي عوايدو په تړاو ناسته وکړه



د ماليې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج شېر محمد مشفق په مشرۍ او د دغه ریاست حمایوي مرستیال الحاج حافظ شاه حسین حسیني او د غیرمالیاتي عوایدو رئیس امان الله امین په حضور کې د کانونو او پټرولیم وزارت، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت، د افغانستان اوسپني پټلۍ اداري، د بهرنیو چارو وزارت، د ماليې وزارت دولتي تصدیو او املاکو ریاست، د عامي روغتیا وزارت، د احصایې او معلوماتو ملي اداري، د صنعت او سوداگرۍ وزارت، د لوړو زده‌کړو وزارت او د خوړو او درملو ملي اداري له مسؤلینو سره د (۱۴۰۲ ل) کال له وري (حمل) میاشتي څخه تر لړم (عقرب) میاشتي پوري د یادو وزارتونو او دولتي ادارو د غیرمالیاتي عوایدو په تړاو د ماليې وزارت د گمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کې ناسته جوړه سوه.

د ماليې وزارت د عوایدو لوی رئیس په خپلو خبرو کې له ټولو دولتي ادارو څخه د قدردانۍ ترڅنگ وویل د عوایدو په شفاف ډول راټولولو او لوړولو کې باید په پوره اخلاص او ایمانداري عملي گامونه پورته سي.

د ناستي په پای کې د عوایدو لوی ریاست د پلان، نظارت او تحقیق رئیس مولوي ابو احمد، د وزارتونو او دولتي ادارو د غیرمالیاتي عوایدو راپور وړاندي کړ.

## د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست مسؤلينو خپل منځي غونډه وکړه

د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي «سیف الخالد» په مشرۍ د دغه ریاست د کارکوونکو ترمنځ د یو بل پېژندلو، چارو د ارزولو، راپور ورکولو او اورېدلو او ستونزو شریکولو په موخه خپل منځي غونډه ترسره سوه.

په دې غونډه کې ښاغلي سیف الخالد، له ټولو مسؤلینو څخه وغوښتل، چې په خپلو دندو کې صادق واوسي او د چارو د ښه پرمختگ په موخه خپلي نېکي مشورې له یوه بل سره شریکې او همدا راز د ماليې وزارت له کارکوونکو سره د دوی د سیرت او صورت برابرولو په برخه کې په خورا ښو اخلاقو او نیک چلند مخ ته ولاړ سي او تر څنگ ئې لاندي پنځه موضوعات په جدي توگه پام کې ونیسي:

لومړی: کارکونکي دي په خپلو کارونو کې له پوره اخلاص څخه کار واخلي؛ ترڅو چاري په ښه ډول مخ ته ولاړي سي.

دوهم: کارکوونکي دي خپلو چارو ته په بشپړ ډول پاملرنه وکړي.

دریم: په درسي برخه کې دي کارکوونکو ته «فقه المیسر» تدریس سي، چې د دې کتاب له تدریس سره د ماليې وزارت کارکوونکي د لمونځ له ادابو او نورو اړینو مسائلو سره آشنا سي.

څلورم: په اونۍ کې دي درې ورځي درسي نصاب وي (دوه ورځي اصلاحي بیان او یوه ورځ ترجمه)

پنځم: د ریاست ټول کارکوونکي مسؤلیت لري، چې د میاشتي په پای کې خپل راپور د واټساپ او وروسته د رسمي مکتوب له لاري له ریاست سره شریک کړي.

ښاغلي سیف الخالد یادونه وکړه، چې د ماليې له وزیر او معینانو پرته؛ د دې وزارت ټول کارکوونکي مکلف دي، چې د ریاست په ټولو درسونو کې په ټاکلي وخت گډون وکړي.



# د بهرنۍ پانگونې راجلبول او گټې

طاوس فرزاد

د یوې ټولنې او یا هم یوه هیواد اقتصاد پر پانگونه ولاړ وي، ځکه د همدغې پانگونې په ترڅ کې تولید رامنځ ته کېږي او تولید بیا هغه څه دئ، چې د وگړو ډېری منډې ترړې او فعالیتونه د اقتصادي تحرک په موخه سره را یو ځای کوي. وروسته پاتې هیوادونه ځکه د فقر د بدمرغۍ دایرې یا کړښې لاندې پراته دي، چې هلته پانگونه نسته او یا هم په داسې هیوادونو کې د پانگونې کچه ډېره ټیټه ده. پوښتنه پیدا کېږي، چې دلته د پانگونې د نه شتون او یا کموالي لامل څه دئ؟ په ځواب کې ئې باید ووایو، چې اصلاً په دغو هیوادونو کې د پانگې راټولېدنه یا جوړښت( Capital Formation or accumulation) ډېر کم او په نشت حساب وي. د وگړو عاید کم او لگښتونه ئې زیات وي ځکه خو ئې په واک کې د پانگونې لپاره کافي پانگه نه وي. نن سبا ډېری مخ پر وده هیوادونو د بهرنیو پانگوالو پرمخ خپلې دروازې پرانیستې دي. هغوی دا کار د پانگې د جوړښت او د هیواد دننه د پانگونې د کچې لوړولو په موخه کوي. دغه بهرنۍ پانگونه، چې د مستقیمې یا نېغ په نېغه بهرنۍ پانگونې( Foreign Direct Investment (FDI)) نوم ورته ورکول کېږي. په اوسني وخت کې د هیوادونو تر منځ د اقتصادي نژدېوالي او په ټوله کې د نړیوالتوب یا گلوبلایزیشن زېږنده او ځانگړنه ده. مخ پر وده هیوادونه د اقتصادي ودې په موخه بهرنۍ پانگونې ته اجازه ورکوي او یا هغه را جلبوي؛ ځکه ډېره پانگونه د اقتصادي غوړېدا په مانا ده او دا چې د مخ پر ودې هیوادونو په کور دننه پانگه کمه ده او یا هم د چټکې اقتصادي



ودې لپاره بسنه نه کوي ځکه خو باید د یاد هدف تر لاسه کولو لپاره د بهرنۍ پانگونې څخه گټه واخیستل سي. بهرنۍ پانگونه د یوه هیواد په اقتصادي وده کې مرسته کوي، بهرنۍ پانگه په کوربه هیواد کې کاري فرصتونه رامنځ ته کوي، هلته نوې ټیکنالوژي او مسلکي بشري قوه لېږدوي، په اقتصادي انضمام کې مرسته کوي، د کارگرو مولدیت زیاتوي او داسې نورې گڼې گټې لري. زمونږ گران هیواد افغانستان هم د مخ پر ودې هیوادونو په لړ کې راځي چې تازه د اقتصادي ودې او پرمختگ بهیر ته داخل سوی یو. د مخ پر ودې هیوادونو د ځانگړنو په اساس موږ هم د پانگې د کمبود سره مخ یو؛ ځکه خو باید د نورو مخ پر ودې هیوادونو او یا پرمختللو هیوادونو له تجربو گټه واخلو او د خپلې اقتصادي ودې، پرمختگ او هوساینې لپاره هغه ټولې لارې چارې په کار واچوو، چې زمونږ د اقتصادي پرمختگ سره مرسته کوي.

د دې لپاره چې بهرنۍ پانگونه را جلب کړو باید لاندې ټکو ته پام وکړو او د هغوی د غښتلي کولو لپاره لازم تدابیر ونیسو:

لومړی - اقتصادي ثبات: اقتصادي ثبات هغه څه دئ، چې پانگوال ئې تر هر څه لومړی په نظر کې نیسي، دا ځکه چې اقتصادي ثبات د پانگونې د راتلونکو زیانونو مخه نیسي. د بېلگې په ډول په کومو هیوادونو کې چې د انفلاسیون نرخ یا کچه په یو ثابت تناسب روانه وي هلته پانگوال د خپلو راتلونکو لگښتونو اټکل په ښه توگه کولای سي، خو چیرته چې اقتصادي بې ثباتي او هرج و مرج وي؛ نو پانگوال به هیڅکله هلته د پانگونې لپاره زړه ښه نه کړي. د دې لپاره چې بهرنۍ پانگونه را جلب سي هیوادونه باید د سوداگریزو او اقتصادي کړنو لپاره له ثباته ډک چاپېریال رامنځ ته کړي.

دویم - ټیټ مالیات: د مالیاتو کچه هم په بهرنۍ پانگونه کې ډېر اهمیت لري. هلته چې د مالیاتو کچه لوړه وي پانگوال پانگونه نه کوي ځکه د هغوی د گټې یوه لویه برخه د مالیاتو په شکل د دولت لاس ته لوېږي. له بله اړخه نوموړي مالیات لگښتونه دي، چې پانگه اچوونکي ئې د لوړو قیمتونو له لارې مشتریانو ته لېږدوي او دا کار په خپل وار سره د قیمتونو د عمومي کچې د لوړوالي لامل کېږي. ځکه خو د ټیټو مالیاتو لرونکي هیوادونه د پانگونې لپاره ډېر مساعد دي د پورته ذکر سویو موضوعاتو په څېر نور موضوعات سته، چې د بهرنۍ پانگونې په برخه کې رول لري.

## د ارزاقو دولتي شرکت د مدیره پلاوي ناسته وسوه

د ارزاقو دولتي شرکت د مدیره پلاوي ناسته د مالیې وزارت د استازي او همدې مدیره پلاوي د رئیس ښاغلي حمیدالله «عبدالحی» په مشرۍ د ارزاقو په دولتي شرکت کې وسوه. په دغه ناسته کې د (۱۳۹۹) کال خپرې سوي اساسنامې مطابق د (۱۳۹۹) مالي کال له بیلانس سره د سهامي شرکت د ارقامو په تفاوت، په ننگرهار ولایت کې د شرکت په پانگه کې په (۱۴۰۰) کال کې د شرکت د پانگونې زیاتولو په منظورۍ، د دولتي شرکتونو لوی ریاست له سپارښتنو سره سم نورو فنډونو ته د فرهنگي فنډ پیسو په لېږدولو، د کارکوونکو له معاشونو څخه د تقاعد د پیسو وضع کولو او د تقاعد خزینې ریاست ته ئې په استولو، د داخلي خوراکي موادو د ذخیره کولو او چمتو سوي طرحې په منظورۍ، له هیواد څخه بهر وارداتو، په کابل ښار کې د خوراکي توکو د مغازې په جوړولو، په مرکز او ولایتونو کې د شرکت پر جایدادونو د



پانگونې د طرحې په منظورۍ، په میرویس میدان کې د څلور پوړیز مارکیټ په څرنگوالي او کرایه ورکولو، د شرکت د طلباتو په څرنگوالي او نورو اړوندو مسایلو په تړاو بحث او د نظرونو تبادله وسوه او په اړه ئې لازمې پرېکړې سوې.

## د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت په کندهار او هلمند ولایتونو کې د عامه پوهاوي برنامې جوړې کړې

د مالیې وزارت اړوند د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او عوایدو پالیسۍ ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت په کندهار او هلمند ولایتونو کې د عامه پوهاوي برنامې جوړې او تر سره کړې په دې برنامو کې، چې د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال ښاغلي حافظ شاه حسین حسیني د عوایدو حقوقي خدمتونو او عوایدو پالیسۍ رئیس ښاغلي مولوی نداء محمد صدیقي او د دغه ریاست اړوند د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت آمر ښاغلي سید احمد هائد گډون کړی وو. دغه برنامې، چې اته ورځې ئې دوام وکړ پکښې د دغو ولایتونو د مستوفیت کارکوونکو ته د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو او لایحو په اړه معلومات ورکول سول د دې ترڅنگ په دواړو ولایتونو کې سوداگرو، هټیوالو او قومي مشرانو ته هم د مالیاتو اړوند عامه پوهاوی ورکړل سو او همدارنگه د دواړو ولایتونو د مستوفیتنو د چارو ارزونه هم وسوه .

# اعلانات داوطلبی

### داوطلبی پروژهء تهیه و تدارک پرزه جات UPS دیتا سنتر مرکز وزارت مالیه

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تادر داوطلبی پروژهء(تهیه و تدارک پرزه جات UPS دیتا سنتر مرکز وزارت مالیه) دارای نمبرتشخیصیه Rebid-۰۵۷-ncb/g/۱٤۰۲/mof که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.

تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۱۱/ قوس/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲۲/ قوس/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تضمین آفر: به مبلغ ۲۰،۰۰۰ ( بیست هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

### د کابل ولایت د (١٦) مي ناحیې اړوند بگرامیو نساجي او لومړي مکروریانونو سره د (۲) دولتي ملکیتونو د داوطلبی خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت د (١٦) مي ناحیې اړوند د بگرامیو نساجي او لومړي مکروریانونو سره لاندي (۲) ملکیتونه په جلا، جلا ډول داوطلبۍ ته وسپاري.

۱. (۲۰۰) متر مربع په مساحت ځمکه.

۲. د فوټبال فدراسیون تر څنگ لومړي مکروریانونو سره د (۴۰۰) متر مربع په مساحت ځمکه.

۳. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو وروسته د (۷) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو له ارزوني او لومړي قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

### د کابل ولایت اړوند لومړۍ ناحیې د سینما پامیر (۱۴) منزله او میوند روغتون سره د (۲) بابه اطاقونو د داوطلبی خبرتیا!

د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت اړوند لومړۍ ناحیې د سینما پامیر (۱۴) منزله او میوند روغتون سره دوه بابه اطاقونه چې (۴۴.۸۲) متر مربع مساحت لري د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وسپاري. ټول هغه حکمی اشخاص چې غواړي نوموړی ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له نشر څخه وروسته د (۲۱ ) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوی ملکیت شرطپانه د اسنادو د ارزوني او لومړني قیمت ته په کتو کولای شي ترلاسه کړي.

### تدارک تجهیزات سیستم سولر و تطبیق آن برای مستوفیت های ولایات مربوط ریاست عمومی عواید

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء ( تدارک تجهیزات سیستم سولر و تطبیق آن برای مستوفیت های ولایات مربوط ریاست عمومی عواید) دارای نمبر تشخیصیه ۰۹۰-NCB/G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۲/ قوس /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲۵/ قوس/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تضمین آفر: مبلغ ۷۰۰،۰۰۰ (هفتصد هزار) افغانی می باشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

# Officials of MoF Meets With Representatives of UNAMA



Honorable Mutiullah Mujadadi, Acting Director of Coordination, Monitoring and Reporting of DM for Policy of MoF met with Mr. Samuel Opoku-Agyakwa, Director of the Rule of Law Section of the UNAMA in the presence of the Director of Monitoring, Evaluation and Reporting of DM for Policy of MoF, Mr. Muhammad Musa Kamwi and a number of heads of the said DM for Policy. In this meeting, the participants discussed and exchanged views on the scheme of the national strategy related toe ant-corruption particularly the benchmarks of the MoF. Esteemed Samuel praised the achievements of the IEA with regard to anti-corruption and he also appreciated MoF in the scheme of the anti-corruption strategy and international standards, especially the UN Convention accordingly. Also, Mr. Mujadadi provided comprehensive information about to prevent corruption, standardization, provide services to the private sector, collect and boost the tax and customs revenues, amendment of laws according to the policy of the IEA and address the opening of a special office related to the problems of clients hearing the grievances. Finally, an agreement was reached between the MoF and the office of UNAMA to continue the relationship for the purpose of sharing information and achievements with regard to anti-corruption.

# Construction Projects Worth 26.5 million Afs Launched in Khost, Abu Nasr Farahi Customs



The General Directorate of Customs has commenced the construction of new dormitory buildings worth 26.5 million Afs for Khost and Abu Nasr Farahi Customs. By the construction, the problems of the drivers of commercial goods shipments of the said customs will be solved. In the opening meeting of these projects, the delegation from the capital Kabul, officials of the said customs and some officials of the regional agencies attended. Notably, the budget for these projects is provided from the development budget of the MoF, which will be completed within the next 14 months

# Tax Exemption Process of Non-profit Organizations Converted to Online Format



In an unprecedented action, the General Directorate of Revenues has moved the tax exemption process of non-profit organizations into online form. In this meeting that was held at the National Academy of Customs and Revenues for this purpose, Hafiz Khalil Ahmad Abu Ehsan, the Operational Assistant of the General Directorate of Revenues; Abdul Wali Noori, Technical Assistant of the General Directorate of Revenues; Maulawi Nida Mohammad Siddiqi, Director of Legal Services and Policy; Muhammad Jalal Ahmadzai, the Director of revenues' system and some representatives of domestic and foreign non-profit organizations participated. Initially, in the opening speech, Hafiz Khalil Ahmad Abu Ehsan, the Operational Assistant of the General Directorate of Revenues, said: "After the re-establishment of IEA, all the directorates of the MoF have been activated, and in terms of collecting revenues and reaching the problems of taxpayers, facilities and swiftness of activities have been proved. Obtaining the certificate of tax exemption of organizations, which was a problem in the past, has been completely solved and the entire process of tax exemption of non-profit organizations has been made online. As a result, this has made it faster and caused more transparent." Later, Abdul Wali Noori, the Technical Assistant of the General Directorate of Revenues, said during in his speech: "Transferring the tax exemption process of non-profit organizations to the online format is another positive step in terms of creating facilities and bringing reforms. But in some cases, the law provides exceptions - those individuals who have non-profit activities and also governments and international organizations that agree in a bilateral or multilateral agreement; therefor, their activities are exempted from taxes according to the agreement." The important issue is that the exemptions are mentioned in a valid legal document and the person who claims tax exemption should have all the terms and conditions, which are mentioned in the laws, Mr. Noori added. After that, Maulawi Nida Mohammad Siddiqi, the Director of Legal Services and Policy to the General Directorate of Revenues, said: "Financial affairs are facilitated daily and the tax system is slowly moving towards e-governance. System building and e-activity or making the system online is not only for tax administration; However, it is also the best step for taxpayers, because it prevents time loss, creates speed, transparency and certainty in work." Additionally, the Director of ACBAR Institute, Richard Hoffman congratulated the development and said about making the system online: "It is necessary to invest in the development of the online system, because it not only keeps the process active, but it also helps in anti-corruption." He assured for all-round cooperation with the vulnerable people of Afghanistan in terms of education and other possibilities. At the end, Fazal Rabi Haqbin, the Director of the Entrepreneurship Education and Training Institute, said: "The process of online tax exemption is an innovation and it's praiseworthy." He suggested that the financial exemption certificate, which was for three-year period previously is now for a year, should be given more consideration. It is merely worth noting that the MoF is committed to providing more facilities to taxpayers and is trying to make e-governance in its related bodies.